اختیاره دخولو څخه وتلي ماته اوس هم پته ده چي دبدر په جګړه کښي دابوجهل لښکرو څنګه تاریخي ماتي وخوړه څنګه دحق پلویان دباطل په لښکرو بریمن شول . زه اوس هم ګورم چي دبدر جنګیالي یو په بل باندي دتورو او نیزو ګذارونه کوي هري خواته دغشو باران دي او داستانان په ککریو باندي دغشو څوکي کیږي زه اوس هم وینم چي دابوجهل په مري خپله خپه ایښي او ابوجهل هغه دظلم او وحشت کابوس دهغه خوا خر خر ګوري زه اوس هم پوهیږم چي داجګړه که څومره توده او ګرمه وه نو هماغومره یې کټل هر لوري ته تاریخ سویه او فیصله کوونکي پیښه وه !

اوس هم دمحمد (ص) او دهغه دیارانو درنګینو خاطرو له برکته زما زړه روښانه اوځلیدونکي دي زه اوس هم دابراهیم (ع) ثبات دحق په لار کښي دهغه سربښندني او دطاغوت په مقابل کښي دهغه پاڅون ته داحترام سرټیټوم زه اوس هم دبني اسرائیلو دسرزوره قوم او فرعوني تشدد په مقابل کښي دموسی (ع) په حوصلي آفرین وایم .

زما قضاوت یو دي ! زه حق ته تل حق او باطل ته ارومرو باطل وایم ، زما نه به حق دباطل سره هیڅکله ګډ نشي زه به هیڅکله عدالت دظلم ، رنا دتیاري او وفا دجفا سره برابره نکړم دقومونو دینو او بدو په نسبت هم زما قضاوت یو دي تاسي به پخپله لیدلي وي چي ما دهغوي په رابطه څنګه قضاوت کړي حق ته مي حق باطل ته مي باطل ظالم ته مي ظالم او عادل ته مي عادل ویلي او که نه ! ارو مرو به ووایې چي دهغو په نسبت ستا پریکړه اوقضاوت به رښتیا چي صحیح اودعدالت په اصولو ولاړدي .

هو رښتیا ! زه اوس لګیا یم ستاسي دجهادي پاڅون بوه برخه خپل زړه ته وردننه کوم په رښتیا سره چي ستاسي دجهادي پاڅون داپراو ډیر عظیم ، احساس پاروونکي او کارنامه ساز دي ستاسي دپاڅون پدي برخه به زما قضاوت ډیر رنګین اولونګین وي ، اوس انتظار باسم چي ستاسي دپاڅون ددوهم باب دلیکلو لپاره ځان چمتو کړم ویه ګورو چي ستاسي دجهادي پاڅون داباب به په کوم سرختمیږي بیا به دراتلونکو سندو نو لپاره قضاوت وکړم - خو هم ستاسي دجهاد ددوهم باب په نسبت قضاوت کولو په رابطه شکمن یم ځکه زه چي اوس ستاسي دجهاد ددوهم پړاو لمړي څپرکي « فصلونه » لیکم نو خندا را ځي ځکه چي داځوارلس کاله هلي ځلي او دا زما خوبدي باب زه ستاسي دمشرانو دایماني فراست ځار نه کوم زه امیدوار یم چي ددي به زما ! قضاوت هم په نظر کښي ونیسي ځکه چي زمانه دهیچا کره هم یې قضاوته نه پاتي کیږي ، دهغه دي خبرو زه دحیرانتیا به نري ورداخل کړم په آخر کښي مي تري پوښتنه وکړه چي نوم دي څه دي ویلي نوم مي تاریخ دي تاریخ .

اقوال زرین

*- کسا نیکه ازسخنان زشت ونادرست پرهیزکند خداوند « ج » اورا ازجمیع افات ومصیبت ها دردنیا وآخرت نجات میدهد .

هرکس خودرا نشناسد ، پس پروردګارخودرانشناخت .

*- کسیکه به خداوند وروزآخرت ایمان دارد باید به همسایه خود ضررنرساند، ومهمان خودرا احترام نماید .

*- هیچکس ازشما داخل جنت نمیشود تا آنکه صاحب ایمان کامل نشود ، وصاحب ایمان کامل شده نمیتواند تا آنکه رشته، محبت والفت اسلامي دربین خود استوار نسازد.

*- خداوند «ج » وقتي شمارا خوشبخت میګرداند که به خوشبختي برادرمسلمان خود کوشیده باشید .

*- همیشه راست ګوباشید وازحق دفاع کنید که ریشه، اعتبارتان ازبین نرود .

*- صابرکسي است که قهروغضب برادرمسلمان خودرا درلباس عفو وتبسم بپیچاند .

*- اګرمیخواهید ازفسق وفساد براي همیشه دورباشید مجبوراً کارکنید .

*- بازوي خودرا با اتحاد قویترسازید .

*- جهادعلیه ملحدین ، ودفاع ازمیهن خود وظیفه فرد ، فرد مسلمان میباشد .

*- مؤمن براي همیشه این خصلت را داشته باشد محتاط اززشت ګوئي، قلب حلیم داشته باشد، باهیچ کسي خشم ګین نخواهد شد . به کسي دشنام نخواهد داد ، کسي راسرزنش نخواهد کرد وکسي را نخواهد رنجانید وبراي همیشه نیك خوئي راعادت نماید .

*- هرسخن باید باذکر خداوند « ج » آغاز شود .

*- یګانه کسیکه درد ، ویاضرر نمیرساند مادر است .

*- تمام طلاهاي روي زمین وزیر زمین بقدریك فضیلت اخلاقي ارزش ندارد .

*- تند خوئي وشتابزده ګي یك نوع دیوانګي است زیراصاحب این صفت به زود ترین فرصت پشیمان خواهد شد واګرنه جنون اوثابت ومحکم است .

ګرد آورنده محمد ظاهر « ستانیزي »

پیام عید ...

در ایام فرخنده، عید اضحي با روحیه اخوت ومودت ، صفا وصمیمیت برادریکدیګر خود را درآغوش بفشارند وبجهانیان ثابت سازند که ملت مجاهد ودیانت شعار ما چنانکه فاتح وقهرمان درجنګ مقدس عقیده وآزادي میهن شان بودند استعداد وصلاحیت آنرا هم دارند تا باهمدیګر برادرانه ومؤمنانه زندګي مسالمت آمیزي را درپیش ګیرند وریشه هاي اختلافات استعماري ودسیسه هاي دشمنان خارجي را یکسره درین روز هاي سعادتمند وپرمایه قلع وقمع نمایند ودردفع وخنثي سازي حیله ګریهاي وتفرقه افګني هاي استعمار جهاني وحلقات وابسته، آن مجدانه بکوشیم وګاونفس اماره وشیاد راقبل ازذبح نذرانه، اضحیه درکشتارګاه تیغ تیز رادرحلقومش درکشیم وآنګاه تمام فتنه ګریهاي ملحدان وبقایاي طفیلي کمونیزم بین المللي وصهیونیزم جهاني درکشور ماچون جنازه، ګندیده، کمونیزم بګورستان تاریخ میرود وملت ما بدون امتیاز رنګ وزبان ، مذهب ومنطقه وقومیت براساس اصل اخوت اسلامي زندګي نوین انقلاب اسلامي را مي آغازند پس چه خوش است که ملت ما درابتکار وشهکار این مأمول هم پیشتاز جهان ونهضت هاي اسلامي باشد وبرآتش

خانمانسوز جنګ افروزان بین المللي ومزدوران جیره خواران آب سرد را بپاشند .

بامید زندګي سعادت آفرین
درزیر نظام فرخنده، اسلام
نه افغان ونه ترك ونه تتاریم
چمن زادیم وازیك شاخساریم
تمیزرنګ وبویرما حرام است
که ما پرورده، یك شاخساریم

لوي اختر ....

اداکیږي، اوس دارګ ،صدارت ، وزارتونو مانۍ دخداي دلاري دمجاهدینو ترقدمونولاندي دي .

دکابل په ښارکښي چي دکمونیزم خونړي پوځونه ګرځیدل اوس هلته دخداي دلاري مجاهدین ګرځي راګرځي ، کوم کفري ځواکونه چي اوس هم تربردي لاندي دکفر په ګټه اودااسلام پرضد فعالیتونه کوي هغوي به هم ډیر ژر ځپل کیږي اوله مینځه به ځي اوهغه وخت لیري ندي چي په ټول افغانستان کښي دااسلام سپیڅلي اوشاندار نظام په ټوله معنا حاکم شي اودافغانستان ځوریدلي خلك دسعادت ، آرامي اوسوکالي ژوند پیل کړي اوهمدغه هغه لوي اختردي چي دغه ملت ورته انتظارویست .

وحدت کنیم

اي ملت یکتاپرست ازصدق جان وحدت کنیم
دور ازریا دور ازحسد اندر زمان وحدت کنیم
وحدت زقلب وروح خود باقول وګفتاروعمل
باهرمسلمان جهان اي دوستان وحدت کنیم
وحدت بود امر خدا (ج) وحدت پیام انبیاء
وحدت مرام اولیا ، بامؤمنان وحدت کنیم
رنج جدایي سالها ازتفرقه بس ما جرا
حاکم شده برحال ما ، همسنګران وحدت کنیم
تاکي سوزیم درنفاق ؟ تاکي بسازیم باشقاق!
زود بګذریم ازطمطراق ، حق پروران وحدت کنیم
وحدت قیام اخوت است ، وحدت پیام ملت است
همګام دین ودولت است پیروجوان وحدت کنیم
دربحر بحران تابکي ؟ آشوب دوران تابکي
دردام شیطان تابکي؟ آزادګان وحدت کنیم
تفریق وتخریب پس چراست ؟چون درهمه یك مدعاست
در راه حق رفتارماست اي رهروان وحدت کنیم

اندرزي ګفتم زین بیان بانظم ورسم شاعران
ګوید«سالك» غمخوارتان هم میهنان وحدت کنیم

رنځوره مور

کله به چي په دغې لارتیریدم هغه به مي ددیوال سیوري ته ناست لیده . یوماښوم به ورسره ناست و او هرڅوك به چي په دغه لارتیریده نوده به په څېر څېر خاره . هغه بله ورځ چي زه په دغې لار تیریدم نو سپین ږیري په ډیر فکر کښي ناست و . له خړي پړي څېري نه یې داسي ښکاریده لکه چي دټولي دنیا غم یې په ولیو پروت اود ناورین راتلونکي قاصد ورته دغم داستان لولي . کله به چي موږ تیرشو او دپاخه سرك ګرم باد به یې په ځان ولګید نو داخوا او هغه خوا به یې وکتل او بیا به دچرتونو په دنیا کښي غرق شو . زه هم چي له ګرمي نه ډیر په تکلیف وم خواته یې ورنژدې شوم له سلام اچولو نه وروسته مي ورڅخه پوښتنه وکړه : بابا تاهره ورځ دلته وینم . پخوا به داسي نه وي لکه چي نن یې . نن دي فکر ډیر خراب ښکاري ، هغه ماشوم هم ورسره نشته چي په خوا کښي به دي ناست و .

سپین ږیري لومړي په خپله سپینه ږیره لاس راکش کړ ، په ژړه غوني آوازیې راته وویل : زویه ! څه مي پوښتې . زما زړه دډیروغمونو له لاسه نور چاودیدو ته نږدې شوي دي . کله یې چي دغه خبره کوله نو په سترګو کښي یې اوښکي ونښتوي . څو شانیې یې په چوپه خوله راته وکتل بیایې راګوویل : نوردغمونو تاب نلرم . ټول ژوند مي په غمونو کښي تیر شو . دخوښي ژوند مي ونه لید . ماورته وویل : صبرکوه دصابرانو خداي مل دي . زما په دغې خبري لیرڅه په کرارشو او بیا یې راته وویل چي ته خپه نشي ما ته له ډیره غمه داعصابو تکلیف پیدا شوي دي . ما ورته وویل چي ډیر غم غصه مه کوه ښایې تکلیف دي نور هم زیات شي بیابې یو سوړ اسویلی وویست . یورته یې را ته وکتل او بیا یې راته وویل : کښینه . ولسي ولاړیې . راشه چي دغمونو صندوقچه درته خلاصه کړم او دبې وزلو له دردونو دي خبر کړم زه یې هم خواکښي کیښناستم او ورته ومي ویل وایه ، هغه لومړي په ما انتقاد وکړ او راته یې وویل : ته چي هرورځ په دغې لار تیریدي نو ماسره به یوماشوم دلته ناست و نو تاولي له ماته دهغه پوښتنه ونه کړه . ما ورته وویل : ماسره دافکر و چي ښایې هغه کورکښي وي . زما په دغې خبري سره سپین ږیري په ژړاشو خپله همسایې په ځمکه ووهله دسرپټکي یې راکوز او دزنګنو په سریې کیښود او بیایې په ځواب کښي راته وویل : هغه مي لمسی و . زما دژوند ټول حاصل او اسره وه . پلار او تره یې له کمونستانو سره په جګړه کښي شهیدان شول ، مشر زوي ته مي واده کړي و او دکشر زوي مي نوي خط او بریت و ، دمشر زوي مي دوه لورګاني او دا ایکسي یو زوي و ، دغه هلك دوه میاشتني ما ته پاتي شو . په هغه وخت کښي زمونږ کور په افغانستان کښي و ، هلته ښایسته ډیره ځمکه وه دهقان به راته کرل او مونږ به خوړل ، ښه سوکاله و ، دچا پروامي نه درلوده . خپل مي خوړل او خپل مي خښل ، دروسانو له راتګ سره سم زما مشرزوي مجاهد شو . خورا ښه مجاهد و. چاته یې بدنه و رسیدلي په ډیري باتوري دااسلام ددښمنانو په مقابل کښي جنګیده . تل به یې دنصیحت راته کاوه چي پلاره دعا راته کوه . مابه چي ورته وکتل نو هغه به راته په خندا شو دهغه خندا دهغه دشهادت مقدمه وه اوله کلي کور سره دهغه مینه دهغه دسعادت نښه ، هو ! زما مشر زوي ، دخداي (ج) په لارکښي شهید شو ، دکور مشرتوب او یتیمان یې کشر وروره ورپاتي شول ، په دغه وخت کښي موږ په سرك تیر شو . سپین ږیري له مانه سترګي واړولي ښکته او پورته یې وکتل ، ماته داسي ښکاره شوه لکه چي په خپل لمسي پسي یې کتل ، په دغه وخت کښي یوبل سړي هم دکلي له کوڅي نه راووت او زمونږ خواته را روان شو ، هغه هم سپین ږیري ته څه وویل څوښتل خوددي لپاره چي سپین ږیري ما سره په خبرو لګیا و نو له سلام نه پرته یې نور څه ونه ویل او زما خواته کیښناست . سپین ږیري په دغه وخت کښي دغه سړي ته ګوته ونیوه او ماته یې وویل : ګوره زه دروغ نه وایم دغه سړي زما شاهد دي ، ما ورته وویل ته دي خپلو خبرو ته دوام ورکړه زه ستا خبري په غور سره آورم ، په تیاباندي به زه څنګه ددروغجن فتوي کوم ، سپین ږیري زما ددغي ویناله آو ریدونه وروسته خپل غمجن سرګذشته په دغو الفاظو پیل کړ : هو ! زما مشر او غیرتي زوي چي شهید شو نو یتیمان یې ماته پاتي شول او دکور مشري هم زما کشر زوي ته ورپاتي شوه

یوه میاشت نه وه تیره شوي چي هغه هم له وحشي روسانو سره په جګړه کښي شهید او په دنیا کښي زما ټول آرمانونه له خاورو سره خاوري شول . په دغه وخت کښي زمونږ سیمه دهغو کمونستانو له لاسه چي زمونږ مشران ورته عقوه کوي دسختو بمباریو لاندي ونیوله زمونږ کور په دغو بمباریو کښي نړولو زیات زیان ولید ، ماله ځانه سره دافکر وکړ چي ښه به داوي چي هجرت وکړم ، څوکسه خپل خپلوان مي له ځانه سره کړل او پیښور ته مي کور راؤست ، پیښورته چي راغلو یوځه پیسي راسره وي او دځامو څهو یو کور او دیتیمانو یوه کتابچه مي جوړه کړه ، نور نه راشن لرم او نه تیشن ، کومي پیسي مي چي له وطنه راوړي وي هغه ټولي خلاصي شوي هغه یولسی په مي چي دلته راسره ناست و او زما دزړه دنیا ګي وریاندي ودانه وه او دجهاد دشهیدانو نښه وه هغه هم تیره ورځ ګرمي وواهه او ناروغه شو ، دلته مي یوه خیراتي روغتون ته یوت ، په ډیر بیر اوبار کښي مي نوبت ونیو دغرمي په شاوخوا کښي چي نوبت راورسید نو ډاکټر ته ورغلم ډاکټر راته وویل ددي خو وینه معاینه کول په کار دي ، ما ورته وویل : خط راکړه چي معاینه یې کړم زما له دغې خبري سره ډاکټر لږ څه غلي شو او بیابې را ته اشاره وکړه چي دلته کیښنه ،

کله چي زه کیښناستم ډاکټر راوړاندي شو او راته ویې ویل : اوس خو غرمه ده ډاکټران روان دي او ناروغ دي هم عاجل دي نو ته داسي وکړه چي کوز بازار کښي زما معاینه خانه ده هلته به راشي زه به یې وینه معاینه کړم او بیا به دارو درته واخلې ، دډاکټر له دغې خبري سره مي ټول ځان اور واخیست په قهریدلي آواز مي ورته وویل ته مسلمان یې که کافر ما چي پیسي درلودي نو په دي ګرمي کښي به مي دري ساعته انتظار ویست ، زما له دغې غصي سره ډاکټر خپله خبره په بله واړوله او ویې ویل چي سړي سپین ږیري شي بیا لیوني شي څه لاړشه ته نه غواړي چي ناروغ دي روغ شي . په دغې خبري سره مي ملازم ته وویل : هلکه دروازه بنده کړه ، نور څوك مه راپریږده او دي هم په دغې بلې دروازې ووت ماله ځانه سره وویل : هغه دي شهیدان . دغه دي ناروغ یتیم او دغه دي ظالم ډاکټر له دغه جریان نه وروسته په تپکنده غرمه کښي کورته راغلم او لمسي مي هم بې دارو درملو کورته راؤست ، کور کښي مي دمه نه وه جوړه چي دماشوم مور راغږ کړ : رحمت خو مرشو ددغې خبري په آوریدو سره ټوله دنیا راباندي توره شپه شوه پاڅیدم دکور اوکلي خلك مي خبر کړل ، ټول خلك راغلل خو ماسره دکفن پیسي هم نه وي ، درحمت مور راغږ کړ اوپه ژړاکښي یې راته وویل : فکر مه خرابوه درحمت دیتیمي دکتابچي یو څو روپۍ پاتي دي هغه درسره واخله اوکفن راوړه زړه مي لږ ښه شو پیسي مي واخیستي کفن مي راوړ او رحمت مي ښخ کړ اوس په دي فکر کښي یم چي زما شاوخوا خلك ټول افغانستان ته روان دي ، موږ ددي توان نلرو چي دموټر کرایه ورکړو ، درحمت مور دهغه له مرګ نه وروسته اوس په رنځ اخته ده ، چاته ورشو او چاته عرض وکړو ، کله چي دسپین ږیري خبري دي ځاي ته ورسیدي نو زما خواکښي ناست کس سپین ږیري ته اشاره وکړه چي بس څه چي ځو . سپین ږیري ورته وویل پرې مي ږده چي خپل غمونه بیان کړم هغه ورته وویل : درحمت دمور بیماري زیاته شوي او هغه هم روغتون ته بوول پکاردي نو زه هم راپاڅیدم خداي خبر چي دنامراده سپین ږیري حال به څنګه وي .

دادچادلاسه ؟

کله یوه خوا، کله بله خوا
پښی لوڅی ، سرلوڅی
منډی دی ، رامنډی دی
چیغی دی ، فریادونه دی
اهونه دی ، واویلاوی دی
دګولیو بارانونه دی
په سروونوکښی لت پت شوی
ماشومان دي ، سپین ږیري دي
دتوپونو ټانکونو د ډوزودلاسه
نړیدلی پارتمانونه اوکورونه دي
هری خواته اوورونه بل دی هغه اوورونه چی
لمبو اولو خړو یې دکابل فضا خړه پړه کړي
تیاره کړي
دادچا دلاسه ...؟
دپردیو د لمسونو دلاسه
دهغو نویوڅیرو دلاسه چي
هغوی دی څوارلس کلن ځوریدلی ، کړیدلی
هیوادکښی صلح نه غواړي ، امن نه غواړي
آرامی نه غواړی ، سوکالی نه غواړي اوپه
هیوادکښي ګډوډی ، نا ارامی غواړي
چوراوچپاول غواړي
څوخپل شوم مقاصد اواهداف دخپلو زرخریدو
غلامانو په مرسته
ددي اجیرو نوکرانوپه مرسته
په وران ویجاړشوی ، سوزیدلی هیواد کښی پلی کړی او
دخپلی خوښی حکومت چی
ددوی ګټي پکښی وی چي
کلونه کلونه یي په انتظارکښي وه
رامینځ ته کړي ، خوددی مجاهد ملت
ددی غیرتی اوجنګیالی ملت په وړاندی به
ددی هیواد دداخلی اوخارجی دښمنانو هره دسیسه
هره طرحه له خاورسره خاوری شي اودغه نوي څیري به
ددوي په وړاندي وځپل شي .
انشاء الله

هندي پوځیانو ۹ کشمیري مسلمانان شهیدان او ۵۰ تنه نوریې ټپیان کړل

له نیول شوي کشمیرنه رارسیدلو خبرونوکي ویل شوي دي چي په سرینګرکي د یوه کشمیري شهید د جنازي دلمانځه د اداکولو په وخت کي هندي پوځونو د جنازي دلمانځه ادا، کوونکي مسلمانان دخپلو وسلو تراور لاندي نیولي چي دهغه په نتیجه کي ۹ تنه کشمیري مسلمانان شهیدان او ۵۰ تنه نور ټپیان شوي دي .

دریوټ له مخي : هندي قوځونو د نیول شوي کشمیر په تارچرسیلو کي له مجاهدینو څخه ۱۵ تنه په شهادت ورسول .

په خبرکي ویل شوي چي کشمیري مجاهدینو په پلوامه نومي ځاي کي ۳ تنه جاسوسان په هلاکت رسولي دي .

په بویل خبرکي ویل شوي چي هندي پوځ د نیول شوي کشمیرګوډاګي والي یوه نامعلومه ځاي ته منتقل کړي دی .

اسلامي نړۍ دي له هند سره خپلې ټولې تجارتي اړیکې وشلوي ډاکترعبدالله عمر النصیف

جنګ - ۷ جون

درابطه عالم اسلامي عمومي منشي ډاکټر عبدالله عمر النصیف په نیول شوي کشمیر کښي دهندي پوځیانو په لاس دهغه ځاي دمظلومو مسلمانانو په ډله ایزه وژنه ژور خپګان ښکاره کړي دي او ویلي یې دي چي ملګري ملتونه دي دکشمیرد معضلي دحل لپاره خپل مسئولیت په هغه توګه تر سره کړي ، څنګه یې چي دعراق پر خلاف پریکړي عملي کړي .

عمر النصیف وویل چي : رابطه، عالم اسلامي ملګري ملتونه په کشمیریانو باندي دهندوانو له مظالمو څخه خبر کړیدي او له اسلامي نړۍ څخه یې غوښتني دي چي هند سره خپلې ټولې تجارتي اړیکي وشلوي او هندي مصنوعات دي خپلو هیوادونو ته نه واردوي ترڅو پدي وسیله هند مجبور شي اوپه کشمیر کي دمسلمانانو له عامي وژني نه لاس واخلي .

د رابطه عالم اسلامي عمومي منشي دکشمیري حاجیانو له هیئت سره دخبرو په ترڅ کښي کشمیري مسلمانانو سره دپوره ملاتړ ژمنه کړې ده .

په چکوسلواکیاکښي دسلواکیا دخپلواکۍ طرفدارګوند مطلق بریالیتوب ترلاسه کړ

پراګ - دغبرګولي ۱۸

په چکوسلواکیا کښي له ابتدایي انتخاباتو نه داسي معلومیږي چي په سلواکیا کښي دخپلواکي له طرفدار ګوند څخه ملاتړ شوي دي او دیموکراتیکي سلواکیا لپاره دغه تحریک دسلواك په شوري کښي مخ په بریالیتوب دي . داسي ښکاري چي په فدرالي پارلمان کښي به دویم لوي ګوند شي . ددي ګوند مشر ولادیمیر میشیا په نظر کښي لري چي دخپلواکي دپلان لپاره به یو ریفرانډم وکړي . مدني دیموکراتیك ګوند چي دچکانو په محلي پارلمان کښي کامیابیږي او هیله کیږي چي په فدرالي شوري کښي به دټولو نه دیو غټ ګوند په حیث رابرسیره شي

سیاسي څارونکي وایي چي په سلواکیا کښي دنښلستو تراؤ له بري سره دارسني فدراسیون څخه دجلاکیدو کوششونه زیات شي . په داسي حال کښي چي چکوسلواکیا دراتلونکي صدراعظم په حیث دچکوسلواکیا دمالیي دوزیر « اسلاوه پیلادس » دټاکل کیدو احتمال زیات دي او همدا اوس دپارلماني انتخاباتو له ګټلو نه وروسته هغه ته دنوي مرکزي حکومت دجوړولو وظیفه ورکړل شوي ده .

پلاس په دي خبره زور ورکړ چي دمیشیا سره دده دخبرو کولو مخکښي شرط دادي چي دده ګوند دجمهوري ریاست لپاره دجمهور رئیس « واسلاوپاول » کاندیدي ملاتړ کوي .

« میشیا » وویل چي که دده غوښتني ونه منل شي خودي دسلواکیا خپلواکي لپاره دریفرانډم دکیدلو احتمال نه ردوي .

له بلي خوا دچکو سلواکیا جمهور رئیس واتسلاو هاول په هغه هیواد کښي دانتخاباتو ورڅرګندوشویو نتیجو ترمخه دخپلو سیاسي راتلونکي په هکله شك څرګند کړي دي .

نوموړي دچکوسلواك درادیو له لاري په خپله وینا کښي ویلي چي دچك او دسلواك دجمهوریتونو دانتخاباتو په نتیجه کښي به ډیر لږ فرق هم ددي سبب شي چي دفدرالي سیستم دائتلاف په سرروغه جوړه زیاته مشکله کړي .

ده زیاته کړي ده چي ځان به دجمهوري ریاست لپاره دوباره کاندید نه کړي . هاول ویلي دي چي چکانو اوسلواکانو دانتخاباتو په وخت جلا نظر درلود نو له دي امله اوس به سیاسي روغي جوړي ته رسیدل ګران وي .

هاول دانتخاباتي مبارزي په وخت کښي دهغو رایو په ضد خبر داري ورکړي ؤ کومي چي دچکوسلواکیا دفدراسیون دختمولو په اړوند ورکول کیدي . خو سلواکانو دنوموړي توصیي ته اهمیت ورنکړ اویه ټینګه یې دملیت پاله ګوندونو سره خپل ملاتړ په ډاګه کړ .

بي بي سي راډیووایي چي دغه ملیت پاله ګوندونه دآزاد اقتصادي مارکیټ په برخه کښي تند او اصلاحات غواړي .

هزاران شورشي سودان تسلیم شدند

حدود ۷۵ هزار تن ازشورشیان سودان در روز ۳ جوزا خودرا تسلیم دولت کرده اند درمیان این شورشیان ۶۰۰ چریك مسلح وجود دارد .

بګزارش اسوشیتد پرس جنرال عبدالکریم والي ولایت «کردفان» درغرب سودان دریك مصاحبه با خبرګزاري رسمي سودان ګفت : شورشیان دیګري نیز براي تسلیم شدن به سوي ایالت کردفان درحرکت هستند .

وي ګفت دولت اقدامات لازم را براي تأمین نیازهي فوري پناهندګان انجام داده است .

امریکا وانګلستان تاهنوزهم روي تهدیدات اقتصادي علیه یوګوسلاویا پافشاري مي کند

واشنګټن : ۱۸ جوزا

غرض راه حل مسئله یوګوسلاویا ایالات متحده، امریکا وانګلستان هنوزهم روي تهدیدات اقتصادي ملل متحد علیه صربستان وموفته نګرو پافشاري مي کند .

به اساس ګزارش رادیو آلمان این نتیجه مذاکرات دوروزه جورج بُش رئیس جمهور ایالات متحده امریکا وجان میجر صدراعظم انګلستان مي باشد .

درپایان مذاکرات جورج بُش درحضور خبرنګاران اظهارداشته است که روي یك سلسله ازآمکانات دراین مورد بحث شده درحالیکه غرض پایان این جنګها کدام تدابیري جدید اتخاذ نه شده است .

جان میجر به نوبه خویش بیان میدارد که درقدم نخست باید اثرات تعذیرات اقتصادي کنوني انتظار برده شود .

دیپلوماتهاي غربي دراین موردچنین عقیده دارند که ضعف اقتصاد یوګوسلاویاي پیشین ازطریق بحران وجنګي که دامن ګیرآن اند تاپایان رسد روز افزون ۸۰ درصد انفلاسیون درماه مي تواند نظام اقتصادي اینکشور رادرهم شکند .

درنا آرامیهاي اخیر سریلانکا ٦۸ نفر به قتل رسید

جنګ داخلي سریلانکا در اخیرهفته به اوج خود رسیده و ٦۸ کشته بجاګذاشته است.

قرار ګزارش رسانه، خبري سریلانکا دراثرجنګهایي که درشمال آنکشور به وقوع پیوسته است ٦۰ عضو جنبش آزادیبخش تامیل ایلام وهشت سرباز حکومتي به قتل رسیده است .

تامیلهاي شمال سریلانکا ازمدتي است که براي ایجاد یك دولت مستقل علیه حکومت مرکزي ودیګر اقلیتها مي جنګند .

دبوسني هرزګوین دبهرنیوچارووزیر له ناټونه د پوځي مرستي غوښتنه وکړه

سارایو - دغبرګولي ۱۸

دبوسنیا هرزګوین دبهرنیو چارو وزیر په عاجله توګه غوښتنه وکړه چي ناټو دي خپل دسولي ساتونکي پوځونه سمدستي « سارایوو » ته ولیږي.

دامریکا غږ راډیو دبوسني دبهرنیو چارو دوزارت په قول وایي « اریس کلاید » دغه غوښتنه نن په هلسنکي کښي داروپا دامنیت او همکاري دکنفرانس دعالیرتبه مقاماتو دغونډي دپیل کیدو څخه مخکښي وکړه .

تیره اونۍ دناټو مقاماتو وویل : که داروپا دامنیت اوهمکاري دکنفرانس له لاري غوښتنه ورڅخه وشي نو دوي به بوسنیا ته دپوځونو په لیږلو باندي غور وکړي ضمناً دملګرو ملتونو مقاماتو خپلو دي هلو ځلوته زور ورکړي چي دبوسني هرزګوین مرکز « سارایوو » ته چي ۶۰۰ زریز ښار اکثر اوسیدونکي دقحطي له خطرسره مخامخ دي دژغورني مواد ورسوي .

دملګرو ملتونو منځګري دجمعي په ورځ په جګړه کښي اخته ډلو سره دي موافقي ته ورسیدل چي د « سارایوو » هوایي میدان بیرته خلاص کړي څو بشري مرستي خلکو ته ورسیږي خو ددغه راز مرستو دپاره یو دوامدار اوربند مخکښي شرط دي او وروستي رپوټونه وایي چي پردغه ښار باندي پرله پسي دتوپونو ګولي اورځي .

دیکشنبي دورځو په جګړو کښي تر دیرشو کسانو پوري ووژل شول . اود ددووصیاشتو راهیسي چي په بوسني هرزګوین دیوګوسلاویا څخه خپلواکي اعلان کړي ده تر ټولو سخت جنګونه پلل شوي دي .

دقطرپارلمان امریکا سره یو ګډ دفاعي تړون د لاسلیکولو په پلوي رایه ورکړه

ورځپانه پاکستان د غبرګولي - ۱۸

دقطر پرلمان د شنبي په ورځ امریکا سره دیوګډ دفاعي تړون د لاسلیکولو په پلوي رایه ورکړه .

قطر له کویت اوبحرین نه وروسته د فارس خلیج دریم هیواد دي چي له امریکا سره دغه دول تړون لاسلیکوي .

دقطر دپارلمان غونده چي د علي بن خلیفه الهاشمي ترمشري لاندي وشوه ویلي دي چي په ۱۹۹۰ میلادي کال کسي په کویت باندي دعراق دیرغل له امله له امریکا سره ددغه دول دفاعي تړون د لاسلیکولو لپاره اشد ضرورت دي .

دترکیې پوځیانو ...

اودترکیې دپوځ ترمینځ دنښتویه نتیجه کي ۲۳ تنه کردیان وژل‌شوي .

دخبر پراساس : دغه نښته دترکیې جنوب شرقي سیمه کي شوي ده چي یوتن پوځي هم پکښي وژل شوي دي .

په خبرکي ویل شوي چي : ترکي پوځیانو دعراق سرحد ته نږدي دکردانوپرخلاف عملیات پیل کړي اودمخالفو ځواکونو ترمینځ نښتي هره ورځ دوام لري .

دالجزایر رژیم پنځه ...

کاله بند محکوم کړاي شوي دي .

په نوموړومسلمانانو تورلګول شوي چي : دالجزایر دپوځ اوداسلامي ژغورني دتحریك ترمینځ په اخ اوډب کي یې لاس درلود .

همداشان یوتن بل مسلمان هم په پنځلس کاله بند محکوم کړاي شوي دي .

جنګ علیه ...

هستند ودراثناي درګیري اماکن مسکوني مردم بي ګناه وبي دفاع را زیرآتش سلاح ثقیله ګرفته اند .

مردم بادرد وبادرك افغانستان که احساس اسلامي ووطن دوستي شان قوي ویرجاست این اجیران بي مزد راشناخته اند . ویعد ازاین جلوشان را باقاطعیت خواهندګرفت .

اظهارات رئیس جمهوریس ...

ازسوي دیګر خبرګزاري فرانسه ګزارش داد که یك مقام یمني که خواست نامش فاش نشود ، ګفته است : پس ازآنکه روشن شد ګزارشهاي هوانشاسي عربستان حاکي ازتعلق داشتن منطقه وخرافه ، به ریاض است یمن اعتراض رسمي خود را به این کشور تسلیم کرد .

بحران جامعه کشورهاي ...

رالجربه ګرده ، قادربه ابراز وجود خواهد بود ، هیچ ملتي تاکنون بیشتر ازملت روسیه تحت سوء استفاده قرارنګرفته اند وهیچ کشوري بیشتر از روسیه ، با همسایګان خود دردرګیري مداوم بسر نه برده است .

صلح وپیشرفت ، ایالات متحده را ملزم مي سازد که موضع غلط دفاع ازمرکزیت دربرابرکشورهاي تازه تأسیس راکنار نهد ، این حقیقت که جمهوري هاي تازه تأسیس ، دستخوش بحرانهاي سیاسي واقتصادي چندي هستند که به کشمکش هاي بین آنها دامن میزند ، مسئله فوق را پیچیده ترمي سازد . بحران اقتصادي ، ناشي ازچند دهه رکود است که با دولت مداري ابداعي استالین آغاز شد . «یلتسین» با انګیزه، فراواني کالاها درجامعه وافزایش تولید ، قمار آزاد سازي قیمت ها وبرداشتن کنترول را آغاز کرد . اکثر جمهوري هاي دیګر نیز راه روسیه را دربیش ګرفته اند . اما مسئله اصلي آنست که آیا روند اصلاحات ، قبل ازاین که شدت مشکلات ، سیستم سیاسي را فروپاشد ، توفیق خواهد یافت یاخیر . همکاران یلتسین بګونه اي سخن ګفته وعمل مي کنند که ګویي امید بستن به نتایج سریع آنان را مایوس کرده است . بحران اقتصادي به روابط داخلي وخارجي جمهوري ها لطمات شدیدي وارد ساخته وعناصرکهنه ، ازاین بحران سود مي برند . یکي از اصلاح طلبان بدین خاطرنشان مي سازد که کودتاي ماه آګست تحت «شرایط خاص» پیروزشد . همچنین کمونیست ها به بیروکراسي دامن مي زنند . کمونیست هاي سابق درموقعیتي قرارګرفته اند که به ترور اقتصادي دست زده و پشتیباني نیزمي شوند . این تمایلات ، به احساس ملي ګرایانه در «مسکو» و«کیف» دامن زده است . روس ها از«ملي ګرایي فاشیستي» که «ولادیمیرژیرنیوسکي» پرچمدارآن است ، سخن میګویند .

«مسلماً این نیز پایان کارنیست ، ازهمان ابتدا آشکاربود که دولت هاي مستقل عضو جامعه مشترك المنافع اختلافات بسیاري بایکدیګر دارند . منازعه بین اوکراین وروسیه برسرکشتي هاي جنګي دریاي سیاه واختلافات بسیاري بایکدیګر دارند . منازعه بین اوکراین و روسیه برسرکشتي هاي جنګي دریاي سیاه واختلافات ارضي آذربایجان وارمنستان - که تاسرحد یك جنګ تمام عیارپیش رفته ، نخستین مشکلات موجود برسرتداوم حیات جامعه مشترك المنافع جدیدند .

اخیراً درچند ناحیه آشوب زده شوروي سابق یعني درجمهوري مولد اویا وناحیه قره باغ در آذربایجان وهمچنین درګرجستان برخوردهاي مسلحانه اي صورت ګرفته که تداوم حیات جامعه، مشترك المنافع را باخطرمواجه کرده است .

اوکراین قلب شوروي سابق بود ، واین یك واقعیت بود که ګذشته این جمهوري بزرګ جامعه کشورهاي مشترك المنافع ونقش آن درتأمین استراتیژي کریملین طي هفت دهه اخیر، آن را به اثبات رسانیده است . اګرجمهوري فدراسیون روسیه بدلیل وسعتش که سه چهارم مساحت شوروي سابق رابه خود اختصاص داده است ، براي امپراطوري کمونیزم طي هفتاد سال حکمرایي اش اهمیت حیاتي داشت ، جمهوري اوکراین بدلیل نقشي که در تبدیل شوروي به یك ابرقدرت جهاني داشته ، داراي چنین اهمیتي بود ، ولي شکست کمونیزم وفروپاشي اتحاد جماهیر شوروي زمینه بروز نارضایتي واستقلال طلبي اوکراین ها رافراهم کرد که ادامه حیات را براي یك ابرقدرت متجاوزجهان ناممکن ساخت .

ازعوامل موثرنارضایتي تحمیلات فرهنګي روسها ودر رأس آنها مبارزه بازبان اوکرایني بوده است . درنتیجه این مبارزه تکلم به زبان اوکرایني هرساله دراین جمهوري ګسترشده وبرعکس تکلم به زبان روسي افزایش یافت کاهش تکلم به زبان اوکرایني معلول سیاستهاي آموزشي تحمیلي روسها برمردم اوکراین بوده است .

مردم اوکراین بعنوان صاحبان اصلي واولیه جمهوري اوکراین احساس مي کردند که روز به روز درفرهنګ وسیاست روس درحال استحاله شدن هستند ، این احساس راکم وبیش سایرجمهوري هاي شوروي سابق نیز داشتند و جمهوري هاي بالتیك با قوت بیشتري توانستند احساسات رادرخدمت اهداف خود درآورده وبه وسیله آن جدایي خود ازیدنه، شوروي را تحقق بخشد وبعنوان کشورهاي جدید وارد جغرافیاي سیاسي جهان شوند .

این عوامل تحمیلي یعني فشار فرهنګي ، سیاسي وتلاش براي برهم زدن توازن جمعیت نفوس آن درکنار عامل مهمتر یعني قدرت صنعتي ، قدرت زراعتي ، قدرت نظامي وقدرت اتومي اوکراین قرارګرفت ، در مردم این جمهوري میل به قیام وجدایي ازجماهیر شوروي رافراهم کرد . اکنون هم مردم اوکراین به سیاست هاي وارث اصلي شوروي سابق «روسیه» به دیده، شك مینګرند واختلافات برسرکشتي هاي جنګي دریاي سیاه ازنمونه هاي بارزآن است ، این اختلافات اګرادامه یابد اسباب بروز آشوبهاي بیشتر را دراین منطقه دامن خواهد زد.

آذربایجان وارمنستان وهمچنین منطقه قره باغ که در داخل خاك آذربایجان قراردارد در حقیقت سرحدات جنوبي شوروي سابق را درمنطقه غرب دریاي خزر تشکیل میدهند ویکي ازپرتشنج ترین منطقه جامعه کشورهاي مشترك المنافع است . درتمام طول حاکمیت کمونیستها ، این اختلافات به دلیل سلطه مطلق کریملین براین مناطق کمتر مجال ظهور یافت . بقدرت رسیدن ګورباچوف درحوت سال ۱۳٦۳ هجري شمسي واعمال دکتورین ګلاسنوست وپروستروئیکا فرصت مناسبي رادراختیار ملیتهاي مختلف شوروي قراردارد تاهریك درسایه فضاي بازسیاسي بوجود آمده براي خواستم هاي خود دست اندرکارشوند . بحران درقره باغ وررویاروئي مسلمانان آذري با آرامنه نیز ازجمله بحرانهاي پیش بیني نشده اي بود که دربرابرطرحهاي ګورباچوف براي اعمال اصلاحات سیاسي درکشور قرارګرفت وي با از بین رفتن کشور شوروي این بحران به میراث جامعه کشورهاي مشترك المنافع رسید که اکنون نیز ادامه دارد .

ګرجستان ومولداویا ازمناطق دیګري است که اخیراً ازناآرامیها وبرخوردهاي مسلحانه اي ګزارش داده شد ه است . امریکا به منظور زیر نظرداشتن این تحولات درتمام کشورهاي عضو جامعه مشترك المنافع سفارتخانه تأسیس کرده وکریم موف مقر وزارت خارجه ازبکستان رادراختیار ترکیه قرارداده است تا ازوضع سیاسي این کشورها نګراني کند .

پته :
پېښور - پاکستان
P.O.BOX---- 467

کارکنان هفته نامهٔ اتحاد اسلامي حلول عید سعید اضحی رابه ملت مجاهد افغانستان وکافهٔ امت مسلمه تبریك وتهنیت میګویند